ژباړه : عبدالرحمن فرقاني ٢٠١٠/٠٣/٢٢م

# بله سړه جګړه

## آیا آسیا به د تسلیحاتي سیالیو ډګر نه وي؟

په آسیا کې تر چین راتاو شوې خورې ورې عسکري او نظامي اډې، او د چین چې د یو پیاوړی قوت په څیریې تبارز کړې دي د دې اډو په محاصره کې راګیرېدل، او د امریکا هڅې ترڅو هغه هیوادونه چې دامریکا په فلک کې تاوېږي لکه جاپان، استرالیا، اندونیزیا، فلپین او داسي نور هیوادونه د دې لپاره راټول کړي چې تر چین یو اټمي کمربند تاو کړي، تر څو د کوم احتمالي عسکري او اټمي یرغل مخنیوي شوي وي، د آسیا په چاپیریال کې دا راز موجود نظامي خوزښت پورتنۍ یاده شوې پوښتنه مطرحوي.

امریکا د چین پرمختګ یوازې اقتصادي پرمختګ نه ګڼي د دې لپاره زیار کوي چې هغه هیوادونه په خپل چاپیریال کې را ولې کوم چې د چین دخوزښت په سیاسي او اقتصادي چاپیریال کې راځي، لکه هند چې لویدیځ هیوادونه کوښښ کوي ترڅو یې د چین د عسکري قوت په وړاندې د ورته قوت په څیر په سیمه کې مطرح کړي، او هند د دې کار لپاره جوګه هیواد دې چې په سیمه کې د چین د سیاسي اطماعو په وړاندې ودرېږي، خو هند هغه هیواد ندې چې په اسانه توګه ملګرى شي !..

لدې ځایه په سیمه کې سیاسي پېښې په ساده توګه نشو څیړلې، او د چین پرمختګ او په نړۍ کې د نړیوال لوی قوت په څیر مطرحیدل، د چین د ګاونډیو هیوادونو هیره را پاروي، آیا کیدې شي چې جاپان د عسکري قوت په څیر په سیمه کې سر راپورته کړي حال دا چې د سیمې ټول هیوادونه یې له هغه تاریخ څخه ښه خاطره نلري چې د جګړو په راپارولو کې یې لري؟ د شرایطو بدلون اواقتصادي پرمختګ چې د امریکا دیر تسلیحاتي پلانونه به شنډ کړي کیدې شي امریکا دې ته مجبوره کړي چې جاپان ته اجازه ورکړي چې خپل عسکري قوت نوې کړي او دخپل عسکري قوت دپیاوړتیا په برخه کې مؤثر ګامونه واخلي .

خوپه آسیا کې د امریکا هغه بیوزله ملګري هیوادونه به څه کوي، چې د دې تسلیحاتي سیالۍ په ډګر کې پښه نشي اېښودلی او مالي لګښت یې نشي پوره کولې؟ او که فرض کړو امریکا ورته تخنیکي کومکونه ورکړي، آیا وبه کولې شي چې د چین د دې پیاوړی قوت په وړاندې ودرېږي؟

کیدلاې شي استرالیا او جنوبي کوریه د دې راز لګښت توان ولري، او یا امریکا خپلې عسکري اډې د ځینې هیوادونو نه خپلو متحالفو هیوادونو ته ولیږدوي، سره لدې داسې څوک نشته چې د ایران ائتلاف له چین سره هیر کړي له کومه ځایه چې د اټمي اسلحې په بازارکې د اټمي اسلحې د لاسته راوړني لپاره تر لویدیځ چین ښه پلورنکي شمیرل کیږي، او د اټمي او نظامي قوتونو په کتار کې د اعتماد وړ ملګري ګڼل کیږي، همدا راز په دې ډګر کې بل لوبغاړۍ شمالي کوریه چې د چین اساسي ملګري هیواد شمیرل کیږي .

روسیه دویم اټمي قوت هم د ژمی په ژوراو وږده خوب نده بیده بلکه په تسلیحاتي لوبه کې مؤثر ګامونه پورته کوي، سره لدې چې که په دور برده راکټونو او نورو نظامي قوت کې یې تخفیف او کمښت رامنځ ته شوي وي، خو روسیه به بیطرفه پاتي نشي که چیري خپل مصلحت پدې کې ووینې چې د یوه قوت په څنګ کې ودریږي، پوښتنه دا پاتي کیږي چې – آیا آسیا به همدارنګه تر ټولولویه قاره پاتي شي ـ که د تیرو شویو سړو جګړو سیرت او تګلاره پکښې تکرار شي، او دا ځل د دیرو پرمخ تللیو اټمي اسلحواو مختلفو اتمي قطبونو سره؟

پخواني شوروي اتحاد د ستوریو دجګړې سیالي ړنګه کړه، کله چې د روسیه مالي خزانې د دې سیالۍ لګښت او پانګه نشوي تمویلولې، او دا راز آخري پایله یې هم شکمنه وه نو ځکه یې ړنګه کړله. او دا راز کړنلاره به چین ته هم غوره نوې که خپل اقتصاد او نفوس په پام کې ولري، چې لدې لارې د لویو قوتونو ډګر ته ننوځي، سره لدې که غوښتنه او لاملونه هم دا وي چې په نړۍ کې نفوذ کول او یا د نفوذ ویشل باید د ایدیالوژیک سرپوښ نه پرته تر سره شي، نو آیا نړۍ به دا راز کړکیچن حالت وګوري چې د یو عسکري او نظامي ټکرپه پایله کې دریمه نړیواله سړه جګړه پکښې پیل شي؟

نښي داراز د حماقت تصرف ردوي چې کوم قوت به بې اقدام وکړي، او دا خبره لرې نده چې اروپا به د یوه حکیم رول ولوبوي- ځکه چې اروپا د دو سړو جګړو په اور کې سوي ده ـ او نړیوالو ته به قناعت ورکړي ترڅو د بیځایه جګړو اور بل نکړي، او کیدې شي هند یو بل هغه هیواد وي چې د تلې اندول وساتي خو د خطرونو په کمښت او مخنوی کې، سره لدې ټول احتمالونه د قوتونو په کشمکش کې شوني دي.

پای

لیکنه : یوسف الکویلیت (دالریاض ورځپاڼې سریزه )..



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ